# په سوات نامه کښې د پیروښان او اخوند درویزه یادونه

## Mention of the Pir Roshan and akhondarweza in Swatnama

خاطر پاڅون*

**Abstract**:

**"**Swat Namah" is a travelogue written by Khushal Khan Khattak. Who went to swat in 1086 AH, and wrote it in the same year. In "Swat Namah" geographical, political and other aspects of Swat are discussed. Along with it, the political, religious and leterary endeavors of "Pir Roshan" and "Akhaund Darwiza" are taken into consideration. The researcher is going to analyze the mentioned points in this paper. On what perspective Khushal Baba looks at Pir Roshan and akhaund Dirwaza and who inspired him the most? The relevant materials will be collected to answer the above questions.

**Keywords:** Swat Namah, Khushal Khan Khattak, akhaund Dirwaza, Pir Roshan.

سوات نامه د هغه چا تخلیق دی، چې دی په یو وخت هر څۀ ؤ، سردار ؤ، جنګیالی ؤ، ادیب ؤ، شاعر ؤ، طبیب ؤ، نفسیات پوهه ؤ، جنسیات پوهه ؤ، فالګر ؤ، ښکاري ؤ، سیاحت کړونی ؤ، معنا دا چې دی په صحیح معنو کښې یو مکمل یا د دۀ په اصطلاح د دستار سړی ؤ.

دغه چې موږ یې د پښتو ژبې او ادب پلار بولو، د پښتو ژبې دغه پلار موږ د خوشحال خان خټک یا د خوشحال بابا په نوم سره پېژنو.

د خوشحال بابا په څېر شخصیتونه د نړۍ په تاریخ کښې موږد ګوتو په شمېر څو کسان پېژنو.

ډاکټر راج ولي شاه خټک د خوشحال خټک د شخصیت په اړه لیکي چې:

"دغه رنګ یو شخصیت ستر خوشحال خان خټک دی، چې د دنیا په دغه شان نادرو او نابغه سړیو کښې د یو خاص امتیاز خاوند دی. ستر خوشحال خان خټک د پښتنانۀ د تاریخ په افق هغه نمر دی، چې رڼا یې زمونږ په ماضي، حال او مسقبل خوره لیدی شي؛ په مستقبل داسې چې لا د هغه د نابغه شخصیت د سیال پیدا کیدو امکان کم راځي، ځکه چې دغه رنګ جینئس شاید چې بس هم یو پیدا کیږي" (**1**).

---

* Reseah scoler, Islamia university pishawar.

د خوشحال خان خټک په اړه د وتلي نقاد قلندر مومند دا خبره دا کاږي کرښه ده چې:"خوشحال بابا په علمي او ادبي تاريخ کښې هغه وړومبنی فنکار دی، چې ادب او فن يې د يو مقصد د حصول د پاره نۀ صرف استعمال کړی دی، بلکې په وړومبي ځل يې مقصدي ادب مفکوره هم منځ ته راوستې ده"(2).

خوشحال بابا بې شمېره تصانيف کښلي دي، چې له هغو څخه زموږ په لاس کښې يو "سوات نامه" هم دی.

پروفېسر ډاکټر يار محمد مغموم خټک د "سوات نامې" د پېژندنې په باب ليکلي چې:"خان بابا سوات نامه په متوسط بحر کښې ليکلې ده، انداز يې متوثر او زړۀ راکښونکی دی، دا کتاب په تاريخي لحاظ د اهميت لرلو سره ادبي او شاعرانه اهميت هم لري" (3).

د مغموم صاحب مرتب کړي شوي ديوان کښې سوات نامه **479** شعرونه لري.

سوات نامه ته تر ټولو غټ وياړ دغه ور په برخه دی چې دا د پښتو اولنۍ سفرنامه ده، چې د سفرنامې په غوښتنو پورا خېژي، او هغه هم منظومه.

د سوات نامې په اړه د سوات پروېش شاهين ډېر ښۀ ليکل کړي دي، چې دلته په راوړلو ارزي:"د خوشحال خان د نورو ډېرو اوليانو سره سره دا فخر او افتخار هم په برخه دی چې په پښتو ادب کښې وړومبۍ سفرنامه هم دې ځوان ليکلې ده، او بيا هم هغه منظومه؛ چې خوږه ده، پسته ده، ترخه ده، معلوماتي ده، او د خپل وخت يوه مصفا ائينه ده، چې د هغې وخت د ژوند ژواک ټول اړخونه پکښې په اصلي حالت کښې ليدلی شي. د سوات د تاريخ، جعرافيه، نسل، مشرانو، سيندونو، مارغانو، فصلونو، موسمونو، بلډنګونو غرض د سوات د فطري ښکلا او شمتنۍ يې چې څومره ژوره مشاهده کړې او بيا يې د قلم په ژبه ګويا کړې ده، بنده حق حېران شي چې دا لوی سړی د څومره ژورې مشاهدې، باتور نظر، د څومره پوخ شعور او فراخه ذهن څښتن ؤ"(4).

تر څۀ حده موږ په سوات نامه رڼا واچوله، لاکن دا مو واضحه نۀ کړه، چې خوشحال سوات ته کله او د څۀ شي له پاره تللی ؤ؟

دا وضاحت کوو خو چې اول دا وضاحت وکړو، چې خوشحال ډېر لوی سياحت کړونی ؤ، خوشحال د سياحت ډېر شوق درلودۀ.

دی پهٔ يؤ شعر کښې دا دعويَ لري چې ما د هر ملک سياحت کړی دی، داسې ځای به نهٔ وي چې ما ليدلی نهٔ وي:

"کوم ملک دی له ما پاتې چې مې پل نهٔ دی پر ايښی
هر ملک به ورته ياد کړم که څوک شته سياحت کړونی"(5).

خوشحال بابا پهٔ 1074هـ کښې اورنګ باچا بندي کړ، پينځهٔ کاله وروسته يعني 1079هـ کښې يې را خلاص کړ، او تر دغه وروسته خوشحال د مغلو پهٔ خلاف او د افغان پهٔ ننګ توره وتړله، او دا نعره يې وکړه چې:

پس له بنده دی دا بزم
د خوشحال د خاطر جزم
يا نيولی مخ مکې ته
يا مغلو سره رزم
يا يو کنج د غرهٔ نيولی
نمونځ روژه د لوستو بزم"(6)

دغه مقصد پورا کولو پهٔ خاطر دی د پښتنو پهٔ کليو، ښارونو، غرو، رغو وګرځېدهٔ، او پښتانهٔ يې د خپلواکۍ دغه جنګ ته راټولول شروع کړل، او پهٔ دغي لړ کښې پهٔ 1086هـ کښې سوات ته لاړهٔ.

رحيم شاه رحيم د سوات نامې منظوم ځواب وئيلی دی، چې "سوات نامه ځواب نامه" نوميږي. رحيم شاه رحيم د سوات د تګ پهٔ اړه وايي چې:

"پهٔ هجري زر او شپږ اتيايم کال
پهٔ طرف د سوات د ملک راغی خوشحال
شهزاده د اکوړي خان د خټکو
خبردار د هر يو علم د هر ټکو
سبلانی لکه باتور د لوړو غرونو
بې پروا لکه پهٔ سين کښې د موجونو
لېونی مجنون د خپلې پښتونخوا هم
مئين ډېر پهٔ سپينو تورو او ليلي هم
پهٔ نامه خوشحال، پهٔ زړهٔ باندې غمژن ډېر

مرچوڼا د هرې ژبې، د هر فن ډېر
د مغلو د منصب نه چې وېزار شو
خوشحال خان د پښتنو د غاړې هار شو
د مغلو بېخ ویستو ته شب او روز
په کوشش و ناقراره جگر سوز
مهندو، غلجو، ختېکو، اپریدو ته
خوشحال ودرېد ټولو خپلو او پردو ته
په غرض د دې عمل راغی تر سواته
توقع یې وه په زړهٔ کښې ډېره زیاته(7)

اوس یو بل دا کار او دا سوال پاته شو، چې ایا دا سفرنامه ده؟ ایا دا د سفرنامې په ټاکلي اصولو باندې پورا خېژي کنه؟ د دې لپاره موږ اول د سفرنامې پېژندګلوي کوو:

"په نړیوال ادب کښې سفرنامه اوږدهٔ سوابق لري، او هم سفرنامې زیاتره د علمي تحقیقاتو لپاره په زړهٔ پورې مواد لري، په سفرنامه کښې سفرکوونکی خپلې خاطرې د قلم په ژبه او د ادب په ادا خوندي کوي، او راتلونکي نسلونو ته یې د یادګار په ډول پرېږدي"(8).

سوات نامه موږ ته که یوٓ لوري ته سوات او سواتیان را په ګوته کوي، ورسره ورسره موږ ته د خوشحال تنقیدي شعور هم راښايي، ورسره ورسره دی د مغلو د منصب او د هغې نه د بغاوت قیصه هم په ادبي پېرایه کښې کوي.

خوشحال عموماً په ټول دېوان کښې او خصوصاً په سوات نامه کښې ډېره هجو کړې ده، او خلق یې دومره غندلي دي، چې کنځل یې ورته کړي، خو په اصل کښې دا موږ ته د خوشحال رښتینتوب ښايي.

## په سوات نامه کښې د روښان او درویزه یادونه

موږ له دغه بحثه قصداً راتېرېږو، چې پیروښان څوک دی؟ او اخوند درویزه څوک؟ روښاني تحریک سیاسي وٓ؟ که مزهبي؟ که نیم سیاسي نیم مزهبي؟.

له دغه بحثه هم راتېرېږو چې دغي دور پښتو ادب او پښتون تاریخ ته څهٔ ورکړل؟ څهٔ کردار یې ولوبوو؟ او څهٔ **Value** لري؟.

له دغه بحثه هم راتېرېږو چې د پیروښان او اخوند دروېزه شخړه په مزهب وه؟ که سیاسي وه؟.

زۀ خپله موخه او هدف ته راګرځم، چې خوشحال په سوات نامه کښې د پښتو ادب دغه سرخېلان په کومه نامه یادوي؟.د خوشحال د غزلو په برخه کښې یو ډېر مشهور شعر دی چې:

زۀ د دروېزه غوندې اېمان ښیم و دۀ ته
دی د پیروښان غوندې د کفر کا تلقین"(9)

دغه شعر نقادانو په دا معنا اخیستی چې ګني خوشحال دا وایي چې: "پیروښان خلق د کفر لوري ته مغلوبوي" لاکن داسې نۀ ده.

مغموم خټک په مرتب کړي کلیات کښې د دې شعر لاندې لیکلي شوي چې:"اخوند دروېزه د اسلامي فقهې مبلغ ؤ، دغه لړ کښې د دۀ مشهور تصنیف مخزن اسلام دی، دۀ د مغلي باچا اکبر په زمانه کښې د پښتو لوی صوفي پیروښان د عقایدو په خلاف تبلیغ کړ.

دا شعر د اخوند دروېزه پېروکار د پیروښان سره د خوشحال بابا د مخالفت په لړ کښې پېش کوي، د دوی دا خیال دی چې خان بابا د اخون دروېزه د عقایدو حمایتي ؤ، مګر هوتي چاپ دېوان کښې د اخون دروېزه په ځای د پېغمر او د پیروښان په ځای د شیطان لفظونه دي، په دې بنیاد دا شعر د پیروښان په مذمت او د اخون دروېزه په تعریف کښې نۀ شي پېش کېدی"(10). یعني په هوتي چاپ دېوان کښې دا بره ذکر شوی شعر داسې راغلی دی:

زۀ د پېغمبر غوندې اېمان ښیم و دۀ ته
دی راته شیطان غوندې د کفر کا تلقین

اول ذکر د اخوند دروېزه د "مخزن اسلام" نه شروع کوو، چې کله خوشحال په سوات کښې مخزن ولوستۀ، د مخزن په اړه یې دا تاثر پېش کړی چې:

یو کتاب دی دروېزه سره جوړ کړی
د سوات خلق یې له علمه دی موړ کړی

نامعقول، مجهول بیان پکښې بې ځایه
پکښې بد د سید وایه، یزید ستایه

ناګهانه چې دې ما پۀ نظر کښېوت
پۀ دا حرف پۀ دا وئیل مې نظر کښېوت"(11)

دۀ ته یوه داسې نسخه پۀ لاس ورغلې وه، چې هغه ښېخي ګډه وډه لیکل شوې وه، چې د هغې خط او املا ښېخي خراب ؤ، او خوشحال دغه کاتب داسې کنځې:

"غۀ جاهل ملا چې دا کتاب و کښلی
ما پۀ دا خبرو دی ؤ ډېر ښکنځلی"(12)

دغه ملا بیا پۀ ځواب کښې پۀ خوشحال دا تور لګوي چې تۀ رافضي(د اهل تشیع د مشهورې فرقې رافضه پېرکار) یې:

"مخامخ یې دا خبرې کړې نمایې
چې تۀ هم سکه رافضي یې چې دا وایې
رد بدل د دې خبرې ډېر مزکور شۀ
دا مزکور پۀ واړه سوات کښې مشهور شۀ
هغه نیم ملا روان شۀ میا نور ته
خس خشاک یې سره ونوستل تنور ته"(13)

اوس له دغه وروسته د میانور او خوشحال خټک جنګ د درویزه پۀ محزن اسلام شروع کیږي، دمیانور د پېژندنې پۀ باب مغموم خټک داسې لیکي چې:
"د سوات ملا و، د اخوند درویزه معتقد د خوشحال بابا مخالف او د مغلو ایجنټ و، پۀ خوشحال یې د رافضیت فتوه لګولې وه، د خوشحال بابا ورسره مناظره شوې وه، مناظره خوشحال بابا ګټلې وه. بیا د دواړو تر مینځه پۀ دې شرط روغه وشوه، چې میا نور به د مغلو ایجنټي نۀ کوي، خو هغه پۀ خپله وعده ټینګ پاتې نۀ شو"(14).

بره مو ذکر وکړ چې کوم کاتب خوشحال پۀ دې وجه کنځلی و، چې د کتاب املا او خط یې ګډ وډ لیکلي وو، یوازې کاتب نه بلکې کتاب یې هم کنځلی و، دغه ملالاړ شو، د سواتیانو پیر، مرشد، ملا، امام میانور یې پرې را خبر کړو، او دغو سواتیانو او ملایانو دا نعرې وهلې چې:

"چا به وې دا چې اخون دې مونږ امام دی
درست محزن پرې نازل شوی پۀ الهام دی

پهٔ محزن باندې چې بد وايي کافر دی
د کافر قتل پهٔ شرح متعبر دی

چا به دا وې چې د ملکه د ويستو دی
چا به دا وې چې توبه کړه د ويشتو دی

يوه لويه هنګامه سره برپايه
چې يې زړهٔ هسې خبرې پهٔ ما وايه

نهٔ يې علم، نهٔ دانش، نهٔ عقل پوهه
خر دوستۍ د درويزه باندې انبوهه

پهٔ وئيل د درويزه عقيده څومره؟
لکه عين پهٔ ايت پهٔ حديث هومره"(15)

هغه څوک چې يؤ کتاب ته د خداي د لوريه الهام وايي، د حديثونو او ايتونو هومره باور ورباندې لري، او خوشحال ور پاڅي، هغه کتاب ته "خام" وايي، ځکه چې دی نظرياتي او ادبي اختلاف ورسره لري. پخپله نظريه لکه د غر ولاړ دی.

خوشحال محزن اسلام ته محزن اسلام نه محزن اسرار يعني د اسرار بيان وايي، دغلته خوشحال د شاعرۍ پهٔ نظر ورته ګوري، خو دغه شاعري بېخي بې معياره او بې توله شاعري بولي، نوره خو څهٔ چې پهٔ دغه کښې خوشحال هيڅ دانش او فرهنګ نهٔ ويني، او بيا چې څومره څهٔ درويزه له نورو ژبو را پښتو کړي دي، هغه هم خوشحال وايي د خلقو د خندا کړي يې دي، اول دغه شعرونه دلته راوړو، بيا د دې پهٔ رڼا کښې د محزن د ليک پهٔ انداز تبصره کوو:

"درويزه چې بيان کړی خپل کتاب دی
نوم يې محزن الاسرار کړی جناب دی
هر بيان يې ناموزون مجهول بې رنګه
خالي پاتو له دانشه، له فرهنګه
که يوه مصرع پهٔ شل بله پهٔ سل ده
نا مربوطه ناموزونه پهٔ وئيل ده
قافيه يې لام او دال سره وهلې

پهٔ ردیف کښې یې نون واو سره پیئلې
قصیده د بوصیري ترجمه کړې
عربي یې تر پښتو مځحک راوړې
هر هر بیت د قصیدې چې در مرجان دي
پهٔ پښتو کښې ار اوربشو لا ارزان دي
معما د ازري ترجمه کړې
تصوف یې و عالم وته نومړې
ترجمه د شاه ناصر یو څو اشکاله
و عالم ته جوړه کړې له مقاله
مسئلې یې نظم کړې پهٔ پښتو دي
درته څهٔ وایم چې څهٔ دي د لوستو دي
پهٔ دا هسې شان کتاب یې مباهات دی
د جامي تر هفت اورنګ وته ناویات دی"(16)

د دې نه دا معلومیږي چې خوشحال هر کله محزن ته د شاعرۍ پهٔ چشمو کښې ګوري، او د دې پهٔ اړه ډاکټر زبیر حسرت لیکي چې:"د دروېزه بابا کلام ته چې مونږ شاعري وایو، نو پهٔ دې وزن هم شته، قافیې او ردیفونه هم لري، یو خاص مضمون او خیالات او افکار هم لري، او د خوشحال بابا نه رواخلې تر قلندر مومند پورې هر شاعر او دانشور پرې د نظم له رویه یا د شاعرۍ پهٔ مناسبت تنقید کړی دی، یا یې د هغه کلام د شاعرۍ پهٔ شکل لیکلی دی"(17).

چې کله د سوات ملکان خوشحال ته راځي، او ورته وایي: "محزن ومنه، دغه کښې د ټولو ګټه ده، او ګنوي بیا را ولاړ شه، او د میانور خواب و وایه"

او خوشحال له ډېرې غصې میانور ته، محزن ته او ملکانو ته "خام" وایي او ورته وایي:

"ما وې دین د محمد دی ما منلی
بې قرانه بل کتاب دی چا منلی؟
دروېزه نهٔ مجتهد دی نهٔ امام دی
دی هم خام، تاسې هم خام، محزن هم خام دی"(18)

او چې کله د خوشحال او میانور تر مینځه بحث شروع شي، ، بیا میانور د خوشحال د زړۀ خبره داسې وکړي چې:

"موړه کله وایو دا چې یزید ښۀ دی؟
پۀ محزن کښې دروېزه ستائیلی نۀ دی؟

بل دې موږ محزن نۀ شعر او نۀ بیان دی
بیان شوی نظم نۀ دی، پۀ بل شان دی

که یې ګورې درست پۀ شان د صحیفو دی
چې راتلې به له اسمانه له هغو دی

پۀ پښتو کلام موزون دی بیان شوی
پۀ معنا کښې د ګرګون دی بیان شوی"(**19**)

او چې پۀ دغه خبره باندې د میانور ژبه وښویېدله، خوشحال د ټوپک ګزارونه پۀ ژبه شروع کړل، او چې د سوات مکار ملایان او ملکان پوهه شول چې دا خو میانور تېرواتۀ، بیا دغه عقیدت مند ملایان او ملکان ور پورته شول، او د میا نور پۀ ځای ئې خوشحال ته نصیحتونه شروع کړل: چې تۀ له میانور قلار شه، او د خپل هدف او مقصد غم خوره، خوشحال پۀ دې اړه وایي چې:

"ما وې بس د ما مقصد مراد هم دا دی
مدعي پۀ دا خبرو خود اګاه دی
د یزید ستائینه ګورئ پۀ محزن کښې
هم محزن نۀ دی د شعر پۀ هیڅ فن کښې
زۀ هم دا خبره وایم خلقه خامه
خود یې و وئیل خبره شوه تمامه
چې هر څوک پۀ دا خبره خبردار شو
عالمان ملکان واړه شرمسار شو
همګي واړه و ماته رائېدار شول
چې کینه ووځي د روغې طلبګار شول
چې تر میان د مومنانو شدت بد دی
بل ستا نور غرض تر دا دعوي ارشد دی

تهٔ پهٔ ننګ د پښتانهٔ راغلې تر سواته
غوږ کاږهٔ کړه د عالم پهٔ کم و زیاته"(20)

بیا خوشحال چې د پښتانهٔ پهٔ ننګ یې توره تړلې وه، د ملایانو او ملکانو نه یې دا غوښتنه وکړه چې "زهٔ به له دې هر څهٔ لاس واخلم، لاکن میانور به هم د مغلو سره راشه درشه نهٔ کوي، میا نور هغه وخت پهٔ دا خبره "امین" و وئیل، خو وروسته له خپلې خبرې بېرته را وګرځېدهٔ، تر دې وروسته بیا خوشحال میا نور او سواتیان ښهٔ ډېر وکنځل، ځکه چې دوی بې علمه او بې دلیله لګیا وو.

له هغه وروسته د سوات نامې بل فصل شروع کیږي، چې هغه کښې د بایزید پیروښان ذکر دی، زهٔ دا چېړې هم نهٔ منم، چې ګني خوشحال د پیروښان مخالفت کړی دی، او دا به موږ د سوات نامې پهٔ رڼا کښې ثابتوو.

مخکښې مو دړد یو شعر ذکر کړی دی، چې زموږ څېړنکاران یې تېر ایستلي دي، چې ګني خوشحال داسې وېلي:

"زهٔ د دروېزه غوندې ایمان ښیم و دهٔ ته
دی د پیروښان غوندې د کفر کا تلقین"(21)

خو ما د هوتي چاپ دېوان خبره وکړه، چې هغه کښې دا شعر داسې دی چې:

زهٔ د پېغمبر غوندې ایمان ښیم و دهٔ ته
دی د پیروښان غوندې د کفر کا تلقین

او دا ډول د سوات نامې یو بل شعر پهٔ اړه هم زموږ څېړنکاران تېروتلي دي، شعر دا دی:

"هغه وخت چې پیروښان فساد بنیاد کړ
پښتنو ورسره ټینګ کار د فساد کړ"(22)

اول دا خبره زباده کړو چې د پیروښان شاګردانو پیروښان یا پهٔ "پیروښان" او یا یې "روښان" بللی دی، ځینې یې بایزید بولي. او مخالفین یې یعني دروېزیان یې "پیر تاریک" بولي.

خو خوشحال کله هم "پیر تاریک" نهٔ دی بللی، هماغه د پیروښان د مریدانو پهٔ څېر "پیروښان" او یا یې "روښان بللی دی.

بل زموږ لیکوالان دلته د دغي "کنفوژن" ښکار دي، چې دوی فکر کوي چې خوشحال دا وايي چې روښان په پښتنو کښې فساد راوستۀ، لاکن داسې نۀ ده، دلته فساد د غورځنګ په معنا راغلی دی، مغموم خټک په دې اړه لیکي چې:

"فساد دلته د تحریک او پاڅون په معنو کښې راغلی دی"(23).

یعني وايي چې کله چې پیروښان د روښاني تحریک بنیاد کېښودۀ، بیا پښتنو هم دغه تحریک کښې ملا ورسره وتړله.

د سوات نامې د یو بل شعر په اړه هم زموږ نقادان تېروتلي دي، چې یعني خوشحال "خیرالبیان ته ناپسندلی" وايي. اول دا شعرونه راوړو چې:

"درویزه له یۀ لوریه راپیدا شۀ
پۀ لږ علم پۀ دا ملک کښې لوی ملا شۀ

چې یې حال د دې عالم مشاهده کړ
خپل کتاب یې پۀ کاغذ مسوده کړ

د روښان خیرالبیان یې وو لیدلی
هغه هم مجهول بیان وو ناپسندلی

هغه وخت پۀ پښتنو کښې علم نۀ وو
درویزه تر مجتهد ورته لا ښۀ وو

پۀ مزهب سني مزهب وو خارجي شۀ
د یزید پۀ ستائش کښې خارجي شۀ

ملنګانو به یزید ته کړې ښکنځلې
درویزه به د یزید ډوزې بللې"(24)

دغه بره شعرونو کښې موږ دا شعر د بحث وړ بولو:

د روښان خیرالبیان یې وو لیدلی
هغه هم مجهول بیان وو ناپسندلی

اول خو دې ته غور کول پکار دي، چې دلته یې بیا پیروښان پۀ روښان بللی، خو کنفوژن دا دی چې دا بیان (خیرالبان) څنګه ناپسندلی وو؟

پۀ دې اړه موږ د عبدالکریم بریالي حواله راوړو، هغه لیکي چې:

"د ناپسندلي څخه مطلب دا دی، چې خلقو نۀ وو خوښ کړی، خو دۀ(خوشحال) خپله رایه نۀ ده لیکلې، او نۀ یې بایزید او د هغه خییرالبیان غندلی دی، ګني د هغه څخه لیرې نۀ وه، چې د مخزن الاسرار د اخوند صاحب پۀ ډول یې ډېر غندلی وی،لکه چې وایي:

دروېزه نۀ مجتهد دی نۀ امام دی

دا ډول رایه یې د پیروښان پۀ حقله هم کولی شوه، خو هغه پۀ دې حقله خاموش دی"(25).

یو بل شعر هم چې موږ یې غلط راوړو، او غلطه معنا ترې اخلو:

"د روښان مرید به وران شۀ پۀ تعین کښې
سل فتنې به یې پیدا کړلې پۀ دین کښې"(26)

دا بره شعر نور هیڅ بحث ته اړتیا نۀ لري، البته د همېش خلیل پۀ چاپ شوې نسخه کښې دا شعر داسې دی چې:

"د روښان مرید محکمه وو پۀ دین کښې
دروېزه رخنه اغازه کړه پۀ دین کښې"(27)

خوشحال د اخوند دروېزه تر دغه پورې مخالفت کوي، چې کم ذات ورته وایي:

"دروېزه د دروېزۍ اوګرې خوړلې
پۀ دا مکر یې حلوه سره لړلې

چې یې توره وینځه هم نۀ وه د وړاندې
قچې قچې یوسفزۍ شوې ورته لاندې

یوسفزیه په دا کار کښې بد کېشي کا
چې د هر یۀ کم ذات سره خوېشي کا"(28)

**نتیجه:**

چې کله موږ سوات نامه پۀ ژور او دقیق نظر وکتله، نو پوهه شوو چې دې ستر، مبارز او افغان خوشحال خټک د بایزید روښان مخالفت نۀ دی کړی، او

هغه ځکه چې د دوی دواړو مقصد او مرام يو ؤ: "له مغل ازادي او د پښتون افغان خپلواکي"

ځينې شعرونه چې دۀ د پيروښان پۀ اړه وئيلي دي، هغه زموږ نقادانو موږ ته قصداً يا پۀ غلطۍ سره غلط تشريح کړي او غلط مرتب کړي دي.

بل موږ وکتل چې خوشحال خټک اخوند دروېزه دومره غندلی دی، لکه څومره يې چې خپل ځوی بهرام غندلی دی، او موږ دا هم وکتل، چې دروېزه يې پۀ دې وجه ډېر غندلی، چې هغه پۀ شاعرۍ ملنډې وهلې دي.

***

# حوالې


1- خټک، راج ولي شاه، ډاکټر، پښتو خوشحال نمبر، پښتو اکېډمي پېښور يونيورستي، جون، جولايي، اګست 2001ء، مخ:9

2- مومند، قلندر، توريالی پښتون، پښتو ته د خوشحال بخښنې،مخ:266

3- خټک، يار محمد مغموم،ډاکټر، پروفېسر، د خوشحال بابا کليات، مرتب، پروفېسر ډاکټر يار محمد مغموم خټک، يونيورستي بک اېجنسي خيبر بازار پېښور، 2016ء، مخ: 62

4- شاهين، محمد پروېش، پښتو خوشحال نمبر، مخ:224

5- د خوشحال بابا کليات، مخ:882

6- همدغه، مخ: 959

7- رحيم، شاه رحيم، سوات نامه جواب نامه، 2006ء، مخ: 111,112

8- الکوزی،جانداد ،ادب پېژندنه،سهار خپرندويه ټولنه ننګرهار، 1397ل، مخ:31

9- د خوشحال بابا کليات، مخ: 682

10- همدغه، مخ:682

11-همدغه، مخ:1333

12-همدغه، مخ:1333

13-همدغه، مخ:1333

14-همدغه، مخ:1521,1522

15-همدغه، مخ:1334

16-همدغه، مخ:1334,1335

17 حسرت،زبېر،پروفېسر،مخزن السلام،اخوند درویزه،تدوین، پروفېسر زبېر حسرت، د اماراتو پښتو ادبي ټولنه مرکز دبۍ، 2014ء، مخ: 21

18- د خوشحال بابا کلیات، مخ: 1336

19-همدغه، مخ:1337

20-همدغه، مخ:1338

21-همدغه، مخ:682

22-همدغه، مخ:1343

23-همدغه، مخ:1343

24-همدغه، مخ:1344

25- بریالی،عبدالکریم، د بایزید روښان خیرالبیان او د محققنو د څیړنو جاج، ملا ظریف اخوند کاکړ فاونډېشن، 2011ء، مخ: 39

26-د خوشحال بابا کلیات،مخ:1345

27-همدغه، مخ:1345

28- همدغه مخ:1345